# د علم البيان په رڼا کښې د الفت بېگم درد د غزل تحقيقي او تنقيدي جائزه

# Ulfat Begum Dard's Ghazal: A Research and Critical Analysis in the Light of Figurative Rhetoric

Khushnuma[1]
Dr Syed Zafar Ullah Bakhshali*

## Abstract:

This research artical presents a critical analysis of the Pashto ghazals of Ulfat Begum Dard with specific reference to Ilm-ul-Bayan (figurative rhetoric). Rooted in the rich tradition of Pashto ghazal , her poetry artistically expresses emotions such as love, sorrow, and feminine melancholy through figurative devices including metaphor, simile, allusion, and personification. The study briefly situates Begum Dard within Pashto literary history, highlighting her distinctive voice as a female poet in a predominantly patriarchal context. Using a qualitative analytical approach, the paper examines how these rhetorical devices enhance semantic richness and emotional intensity in her selected ghazals. The analysis demonstrates that the effective use of Ilm-ul-Bayan not only reinforces traditional ghazal aesthetics but also deepens thematic expression, thereby affirming Ulfat Begum Dard's significance in Pashto poetic discourse.

**Keywords**: Ulfat Begum Dard, Ghazal,Figurative Rhetoric,Pashto Poetry Metaphor, Simile,Allusion,Personification, Women's Literature

د شلمې صدۍ پښتو ښځينه ادب کښې د سيده بشرى بېگم او الف جان خټکې نه پس درېمه مهمه شاعره محترمه الفت بېگم درد (11مه فروري، 1925ع — 9سمبر، 1977ع) بللى شي چې د پښتو ادب څولۍ ته ئې دوه معياري شعري مجموعې(د زماني ټکرې،حيات درد) ورکړي دي. نومورې په مجموعي توگه د غزل شاعره منلې شي او د ياسيت د مستقل فکري حوالې په بنياد ورته د

---

[1] MPhil Scholar Department of Pashto AWKUM
* Assistant Prof Department of Pasho AWKUM

یاسیت شاعره هم وئیلې کېږي. د هغې شاعرۍ بالخصوص غزل د فني او فکري پختګۍ له رویه د لویو لویو پوهانو خیال ځان ته راګرځولی دی او دغه شان قابلِ رشک اعتراف ئې ترلاسه کړی دی. د الفت بېګم درد د غزلیه شاعرۍ په اړه سید رسول رسا لیکي چې:

> "د درد اکثر غزلونه مسلسل دي۔ او د غزل د هر بیت نه ئې درد راڅاځي۔ او د لوغړن مینه ناک زړهٔ شني لوخړې ورنه خېژي۔ او په ادبي خوبیانو مزین دي۔ یعني هر غزل ئې د تغزل په رنګ رنګین دی۔ او د هر غزل ژبه ئې شسته شائسته،ساده، خوږه ادبي پښتو ده ۔ په غزل کښې له دې قسمه پسته او خوند ناکه ژبه صرف یوه زنانه لیکلی شي۔ خو هره زنانه ئې هم نهٔ شي لیکلی۔ فقط یوه داسې زنانه چې ډېر اوچت او سپېڅلی ادبي ذوق لري۔ او په ژبه ئې ډېر قابو او قدرت وي"(1)

د دې نه اندازه لګي چې سید رسول رسا د الفت بېګم درد غزل بالخصوص د فن په لحاظ د اوچتې پایې غزل ګڼي۔ بلکې هغه خو د دې د فن دومره قائل دی چې د کلاسکیت او جدیدیت د حسین امتزاج درجه ئې ورکړې ده. هغه وائي:

> " د مِس درد د شاعرۍ خوبي دا ده چې په دې کښې د کلاسکیت او جدیدیت دواړه په یو ځای بیا موندی شي۔ یا داسې به ووایو چې د درد غزل د دواړو خوبیانو یو حسین امتزاج دی."(2)

د الفت بېګم درد شاعرۍ ته د سید رسول رسا له غاړې ورکړې شوي دا هغه تنقیدي سند دی چې د هغې د فن د لوړوالي بنیاد جوړېږي.

مشرقي تنقید د شاعرۍ د فني محسانو او خوبو د بیان په لړ کښې علمِ عروض،علمِ قافیه او د بیان او بدیع مسائل همېشه پام کښې نیولي دي۔ دا ټول علوم چې په خپل ځای د پام وړ دي خو چونکې دلته د الفت بېګم درد غزل ته د علمِ بیان د زوایې سره کتلې شي نو ځکه غواړم دا چې دا واضحه شي چې علمِ بیان دی څهٔ شی؟ نو په ساده ټکو کښې مونږ دا وئیلی شو چې علمِ بیان هغه فن دی چې په هغې کښې یو مطلب د عبارت په حواله مختلفو طریقو باندې ترسره کولی شي۔ خو دا مختلف عبارتونه به یو شان معنې نهٔ څرګندوي۔ چرته به معني لږې پټې چرته به ښکاره وي۔ یعني دا هغه علم دی چې یو مطلب په کښې بېلا بېلو عبارتونو سره ممکن شي ۔ یا به دا ووایو چې علمِ بیان کښې بنیادي کردار د مجاز یعني

تشبيه،استعاره،کنايه او مجاز مرسل وي . په دې حواله سجاد مرزا خپل کتاب "تسہیل البلاغت" کښې ليکي:

"وہ علم جو ایسے اصول و قواعد بیان کرتا ہے جن کے ذریعہ سے ایک مطلب مختلف عبارتوں میں اس طرح ادا کر سکیں کہ ایک معنی بہ نسبت دوسرے کے زیادہ یا کم واضح ہوں۔علمِ بیان کہلاتا ہے."(3)

ترجمه: هغه علم چې داسې اصول او قواعد بيانوي د کومو په وسيله چې يو مطلب په بېلابېلو عبارتونو کښې په داسې ډول ادا کېدی شي چې يوه معني د بلې معنې پرتله ډېره يا لږه روښانه وي،علمِ بيان بللی شي.

د علمِ بيان په حقله د نور سپيناوي په غرض دې ځای د پروفېسر سيد عابد علي عابد نظر هم د پام وړ دی.هغه په خپل کتاب "البيان" کښې څۀ په دې ټکو ګويا دی:

"علمِ بیان وہ علم ہے جو مجاز[(1) تشبیہ (2) استعارہ(3) مجاز مرسل(4) کنایہ] سے اس طرح بحث کرتا ہے کہ اس پر حاوی ہونے کے بعد فنکار، انشاپرداز، یا خطیب اپنے مفہوم کے ابلاغ تام میں کامیاب ہو سکے."(4)

ترجمه: علمِ بيان هغه علم دی چې مجاز[(1) تشبيه (2) استعاره (3) مجاز مرسل (4)کنايه] په اړوند داسې ډول بحث کوي چې تر هغې د تسلط ترلاسه کولو وروستو هنرکار،ليکوال يا ويناوال کولې شي چې د خپل مطلب بشپړ ابلاغ په برياليتوب سره ترسره کړي.

د دې حوالو په بنياد مونږ چې کومې نتيجې ته رسو نو هغه دا ده چې علمِ بيان د لفظ سره سرو کار لري . او دې ځای د لفظ د مجازي او حقيقي معنې تر مېنځه يوه هنري کرښه هم راکاږي . خو سره د دې دا هېرول هم نۀ دي پکار چې په شاعرۍ کښې علمِ بيان نژدې معنې ته د رسائۍ د زمينه برابرولو کار هم ورکوي او په دې لړ کښې پورته ذکر شوي څلور ارکان(تشبيه، استعاره،کنايه او مجاز مرسل) مرسته کوي.

**1: تشبيه**

د تشبيه ساده تعريف مونږ دا کولې شو چې يو څيز د يو مخصوص صفت په اعتبار د دويم څيز په څېر ګڼلو ته تشبيه وائي. پروفېسر فضل مير خټک دا څرګندونه په دې ټکو کوي:

"د تشبیه لغوي معني ده یو څیز د بل په څیر ګڼل ـ خو په علمِ بیان کښې د څۀ منلي شوي صفت د اشتراک شرط هم ورسره ولګي ځکه د علمِ بیان په رڼا کښې د تشبیه تعریف دی چې د څۀ مشترک صفت په وجه یو شی د بل غوندې ګڼل یا په اوربدونکي خپله معني ښۀ په غوره طریقه څرګندولو د پاره چې یو شی د څۀ صفت او خوبۍ په وجه د بل غوندې وګڼو دې ته تشبیه وئیلی شي." (5)

پۀ شاعرۍ کښې تشبیه ته خاص اهمیت حاصل دی ـ ځکه چې شاعر د جمال او کمال د دنیا انسان وي او تشبیه که یو خوا ته وګورو د جمال په لټه د مشابهتونو نه کار اخلي یعني ښکلي مخ چې د حسیاتو په کنډه تلي نو سپوږمۍ یا ګلاب ورته په جوړه کښې ږدي نو بل خوا هغه د ژبې استعمال هم د مجاز د دائرې دننه کوي چې د کمال مترادف جوړېږي. په دې بنیاد تشبیه د معني آفریني سرچینه هم ګڼلې شي ـ د پروفېسر انور جمال مطابق:

"تشبیہ معنی آفرینی کی جان ہے ۔ تمام دنیا کے شعری سرمائے میں تشبیہ کی جھلملاہٹیں روز اول سے ہی جلوہ فرما ہیں ۔ تمثیل، تعقل، استعارہ، امیج اور شعری علامت جیسی عمیق صورتیں تشبیہ کی ترقی یافتہ شکلیں ہیں ."(6)

ترجمه: تشبیه د معني آفرینۍ روح دی.د نړۍ د شعري پانګې په ټوله خزانه کښې د تشبیه ځلاوې د وړومبۍ ورځې راسې ځلېدلي دي. تمثیل، تعقل، استعاره، تصویرګري او شعري علامت هسې عمیق ډولونه د تشبیه پرمختنه شکلونه دي.

پۀ شاعرۍ کښې د تشبیه استعمال د معنوي ښکلا سبب ګرځي ځکه شاعران ئې اکثر کاروي ـ دغه شان د الفت بېګم درد په شاعرۍ چې هم نظر واچوو نو په هغې کښې هم د تشبیه د استعمال نمونې موندی شي ـ د مثال په توګه:

ګوری ځان به د طوفان غوندې کړم پورته
د یار غمه ما بې وار ونۀ چېړې (7)

یعني دې شعر ته که مونږ فکر وکړو نو د تشبیه راوړل په کښې به سهي کړو ـ "د طوفان غوندې" کښې د "غوندې" لفظ په کارونه مونږ وینو چې شاعرې د ځان یوه موازنه کړې ده ـ او دغه موازنه د طوفان سره ده ـ په شعر یا جمله کښې د تشبیه د پېژندنې لار د تشبیه د ارکانو په بنیاد سر کولې شي ـ نجم الغني رامپوري

دا ارکان په "بحرالفصاحت" کښې څۀ داسې وړاندې کړي دي:

"تشبیہ کے بیان میں پانچ چیزوں سے بحث ہوتی ہے (1) مشبہ بہ اور مشبہ ان کو طرفینِ تشبیہ کہتے ہیں (2) وجہ تشبیہ (3) غرض تشبیہ (4) اداتِ تشبیہ۔یہ چاروں تشبیہ کے ارکان کہلاتے ہیں۔ (5) اقسام تشبیہ۔۔۔(8)"

ترجمه: د تشبیه په بیان کښې پینځو توکیو باندې بحث کولې شي.(1) مشبه به او مشبه،دې ته 'طرفېن تشبیه' وائي.(2) وجه تشبیه(3)غرض تشبیه(4)اداتِ تشبیه،دا څلور واړه د تشبیه په ارکانو بللې شي.(5) د تشبیه ډولونه....

دې ځای د دغو ارکانو پېژندګلو کول هم ضروري جوړېږي ځکه چې څو د دې ارکانو پېژندګلو نۀ وي شوې نو په شعر کښې د تشبیه د اهمیت اندازه هم په سمه توګه نۀ شي لګېدی. نجم الغني د طرفېنِ تشبیه یا د مشبه او مشبه به په حقله څۀ داسې لیکي:

"طرفینِ تشبیہ دو چیزیں ہیں۔ ایک مشبہ، وہ جس کو تشبیہ دی جائے دوسرے مشبہ بہ وہ ہے جس سے کسی چیز کو تشبیہ دیں اور مشبہ سے اس صفت میں زیادہ ہو جس کی وجہ سے تشبیہ دی جائے."(9)

ترجمه: طرفېن تشبیه دوه اړخیزه وي.یو مشبه،یعني هغه چې تشبیه ورته ورکړی شي.دویم مشبه به، یعني هغه چې ورسره تشبیه ورکړې او مشبه سره په دې خاصه زیات وي په کومه وجه چې ورسره تشبیه ورکړی شي.

نو اوس چې پورته شعر ته وګورو مونږ سره مشبه "ځان" جوړېږي. دغه شان مشبه به "طوفان" دی. نجم الغني د مشبه او مشبه به دوه قسمونه بیان کړي دي. (1)حسي (2) عقلي. د هغۀ د وېنا مطابق:

1. "حسی جسے حواسِ خمسہ ظاہری سے دریافت کر سکیں اور حواس خمسہ ظاہرہ پانچ ہیں بصر، سمع، شم، ذائقہ اور لمس

ترجمه: حسي لکه حواس خمسه په اساس چې دریافت کړی شي او حواس خمسه ظاهر پینځۀ دي؛بصر،سمع،شم،ذائقه او لمس

2. عقلی جسے حواس ظاہرہ سے معلوم نہ کر سکیں پس مشبہ اور مشبہ بہ دونوں ایک ہی ہونگے یا مختلف."(10)

ترجمه: عقلي، چې په حواس ظاهر معلوم نهٔ کړی شي. بس مشبه او مشبه به دواړه به یو وي یا مختلف.

دلته دا مونږ وئیلې شو چې د طوفان غوندې ځان پورته کول د مشبه او مشبه به مثال "حسي په متعلق باصره" دی. پورته د تشبیه بل رکن "وجه تشبیه" ښودلی شوی دی۔ یعني هغه خوبي یا خاصیت د څهٔ د وجې چې یو څیز له د بل څیز سره تشبیه ورکړې شوې وي. بحر الفصاحت کښې د دې وضاحت داسې موجود دی:

"وجہ مشابہت وہ معنی ہیں کہ مشبہ اور مشبہ بہ دونوں اس میں شریک ہوں اور وہ معنی مقصود بھی ہوں اور مشبہ اور مشبہ بہ سے بہت خصوصیت رکھتے ہوں۔ اس کو وجہ شبہ بھی کہتے ہیں."(11)

ترجمه: وجه مشابهت هغه معني ده چې مشبه او مشبه به دواړه په دې کښې شریک وي او هغه د معني مقصود هم وي او د مشبه او مشبه به سره یو شمېر خاصیتونه لري. دې ته وجه شبه هم وائي.

نو اوس چې د ځان او طوفان مینځ کښې وجه شبه یا وجه تشبیه ته وګورو نو طوفان د ځواکمنۍ او تباهۍ راوستو په خاصه یادېږي ۔ شاعرې هم په دغه خاصه ځان سره د مشبه به په صورت طوفان یاد کړی دی.

د تشبیه د ارکانو په لړ کښې بل رکن لکه څنګه چې پورته ذکر شوی دی هغه "غرض تشبیه" دی۔ یعني د دې نه مطلب دا اخستی شي چې هغه غرض د څهٔ د وجې چې تشبیه ورکولې شي ۔ د غرض تشبیه په تشبیه کښې پته لګول د لوستونکي کار وي لکه مونږ دا وئیلي شو چې پورته شعري بېلګه کښې غرض تشبیه روحاني ستونزې او پرېشانۍ ښودل دي. دغه شان بل رکن چې "ادات تشبیه یا اداة تشبیه" دی۔ دې ته "حرف تشبیه" هم وئیلې شوي دي۔ د نجم الغني مطابق:

"اداۃ لغت میں آنے کو کہتے ہے۔ یہاں وہ چیز مراد ہے جو ایک کو دوسرے سے مشابہ کرنے کا واسطہ ہو۔ خواہ اسم ہو یا فعل ہو یا حرف."(12)

ترجمه: اداة لغت کښې راتلونکي ته وائي. دلته ترې هغه څهٔ مطلب دی چې یو د بل سره مشابه کولو واسطه وي. هغه دې اسم، فعل یا حرف ولې نهٔ وي.

پهٔ ساده ټکو کښې که د پورته شعر نه مثال ورکوو نو د شعر په ورومبۍ مصرعه کښې "غوندې" حرف تشبیه دی. د الفت بېګم درد په شاعرۍ کښې د

تشبیه استعمال اګر چې پرېوانه نۀ دی خو بیا هم دا وئیلی شو چې هغې د خپل فن په سینګار کښې تشبیهات کارولې ضرور دي. دلته ئې د نورو شعرونو مثالونه هم راوړلې شي.

لکه شمع مې تر مرګه رڼا درکړه
دنیا بیا هم سزا وار شام و سحر یم(13)

زړۀ کښې یاد غوندې او سترګو کښې د اوښکو
رانزدې ده که هر څو لرې اوسېږې (14)

ستا د راتلو په انتظار اوسېدم
ټول عمر وخت کښې د بهار اوسېدم (15)

د الفت بېګم درد دا شعرونه چې د تشبیه د کارونې غوره بېلګې دي، دغه ټول شعرونه د هغې د کتاب "حیاتِ درد" نه راخستې شوي دي. دغسې بله شعري مجموعه چې د زمانې ټکرې/د اوښو سېلاب ده هغې کښې د تشبیه استعمال د نیشت برابر دی. بلکې دا به ووایو چې دې مجموعه کښې ئې ډېر لږ د تشبیه نه کار اخستی دی. په دې مجموعه کښې چې د تشبیه په لړ کښې کوم شعرونه موجود دي هغه دا دي:

د زخمي زړۀ مې جوړ وشلېدل ټکونه
د رڼا دعا په شپو کښې مې غوښتله (16)

دعا والې یم د خپلو مشرانو
اوړېد ژوند نه راته جوړ شو مصیبت (17)

بې وعدې یم انتظار کښې انتظار کښې د جانان خلا ته ګورم
پۀ دې شان مې هم تا دواړه سترګې ګوري نۀ ښکارېږې (18)

د دې شعرونو نه اندازه لګي چې خپل شاعرانه اسلوب کښې الفت بېګم درد د علمِ بیان د دې توکي/رکن یعني تشبیه نه زیات کار نۀ دی اخستی او نۀ ئې ورسره ډېره دلچسپي وه.

### 2. استعاره

استعاره دراصل د تشبیه اوښتی صورت دی دغه لفظ د مستعار نه وتی

دی. او علمِ بيان کښې دا په اصطلاحي معني کارولې کېږي. دا وضاحت پروفېسر انور جمال څهٔ په دې ټکو کړې دی:

"استعارہ علم بیان کی اصطلاح ہے جس کا معنی ادھار لینا ہے۔ 'کسی شے کے لوازمات اور خصوصیات کو کسی دوسری شے سے منسوب کرنا استعارہ ہے'۔لفظ کو مجازی معنوں میں اس طرح استعمال کرنا کہ حقیقی اور مجازی معنوں میں تشبیہ کا تعلق ہو۔۔۔استعارہ کہلاتا ہے."(19)

ترجمه: استعاره د علمِ بيان اصطلاح ده چې معني ئې قرض کول دي. د يو څهٔ لوازمات او خاصيتونه بل څهٔ سره منسوب کول، استعاره ده. لفظ په مجازي معنو کښې څهٔ په داسې ډول کارول چې د حقيقي او مجازي معنو ترميان د تشبيه تعلق وي، استعاره بلل کېږي.

د استعارې درې ارکان دي (1) مستعار له (2) مستعار منه (3) وجه جامع. د مستعار له نه مطلب هغه خوبي يا لفظ اخستی شي چې د يو څيز يا يو تن لپاره مستعار واخستی شي. دغه شان مستعار منه نه مطلب هغه څيز يا تن وي د څهٔ نه چې کومه خوبي يا لفظ مستعار شي. او وجه جامع د مستعار له او مستعار منه ترمېنځه مشترکه خوبي يا وصف بلل شي. د استعارې د دې ارکانو په حقله تسهيل البلاغت کښې داسې ليکلي دي:

" معنی مشبہ کو مستعار لہ (مانگا ہوا اس کے واسطے) معنی مشبہ بہ کو مستعار منہ (مانگا ہوا اس سے اس لفظ کو جو مشبہ بہ کے معنی پر دلالت کرے) مستعار وجہ شبہ کو وجہ جامع کہتے ہیں."(20)

ترجمه: معني مشبه ته مستعار له(اخستې شوې د هغې په واسطه)معني مشبه به ته مستعار منه(اخستې شوې د هغې نه هغې لفظ د پاره چې د مشبه به په معني دلالت وکړي. مستعار وجه شبه ته وجه جامع وائي.

اوس چې د الفت بېگم درد شاعرئ ته مونږ راشو نو د پورته وضاحت په بنياد مونږ داسې ډېر شعرونه ترلاسه کولی شو چې د هغې نه د استعارې بېلگې راټولېدی شي. دې ځای زهٔ هغه شعري نمونې راوړم څهٔ کښې چې د لفظ او ژبې استعاراتي استعمال شوی دی:

نن ديدن د درد په غټو سترگو وکړئ
يوه شمع ده تر مرگه سوزېدلې(21)

دا ځنګه تيارۀ ده دا فضا څنګه سپېره شوله
نن خو راته ښکاري جوړ سپوږمۍ تندر نيولې ده(22)

دا بهار دی که خزان دی نۀ پوهېږم
پۀ مخ اوښکې مې باران دی نۀ پوهېږم(23)

ستا د تلو سره ګلشن شاړه مېره شۀ
بلبلان دلته چغار څله کوي(24)

دا همه تورې تيارې به پړق رڼا شي
کۀ د يو طرف نه راغلئ مور او پلاره(25)

زمانې څۀ مې وو بد درسره کړې
ستا د لاسه مې تل اوښکې تويول شو(26)

چې د خدای په بند شي ګېر خلاصېدی نۀ شي
څنګ زما مخکښې خوارۀ خلق رخصت شو(27)

اوس چې د دې شعرونو په بنياد مونږ د استعارې لټون وکړو نو دا نتيجه راسره راوځي:

شمع= رڼا/ژوند

تندر=پرېشاني/مصيبت

باران= غم/خفګان

بلبلان= عاشقان

تورې تيارې= مصيبتونه/پرېشانۍ

اوښکې تويول= بدې ورځې

رخصت=مرګ

د الفت بېګم درد د شاعرۍ په مطالعه مونږ دا وئيلې شو چې د هغې په شاعرۍ کښې د استعارې بې کچه استعمال شوی دی. او استعاره د هغې د شاعرۍ د اسلوب يوه بنيادي پېژندګلو ده. لکه دا شعرونه ئې هم د لوستو دي:

ما په ډېرو دعاګانو وۀ راوستی
مارغۀ په الوتو کښې کور ته لاړو(28)

ما په ګلونو بهارونو کښې چې ونۀ ګورې
خانه بدوش خو کړي د کډو بارېدو خبرې(29)

غورځوه تندر په ما چې څو دې وس دی
کۀ په جاله کړې قیامت نو څۀ فائده(30)

بې کيني زړۀ کوي بيا هم تانه طمع
اخري شمع وژلو له مې راشه(31)

ای زل زول سیلۍ بارانه ورانوه یې
زۀ بې غمه د جونګړې د خطر یم(32)

دې شعرونو کښې استعارې څۀ داسې دي:

مارغۀ = بې وفا جانان

خانه بدوش= کور په سر محبوب/تلونکی محبوب

تندر= تکلیف/د بې وفائۍ عمل

جاله= ژوند/کور

اخري شمع=وروستی امید

مالګه مرچ= د طنز خندا خبرې/توقې

مرهم= وفا/مهرباني

زل زول باران=مشکلات

جونګړه=ژوند/کور

دغسې د حیاتِ درد وړومبی غزل خو په دې لړ کښې خاص د پاملرنې وړ دی:

دا زما زړۀ بې قرار ونۀ چېړې
قصې پرېږده د بهار ونۀ چېړې

اورېدونکي په چمن کښې هېڅوک نشته
ای بلبله چې چغار ونۀ چېړې

سماعت به مې مطربه برداشت نهٔ کړې
چې په هېره د غم تار ونهٔ چېړې

ای ساقي پياله کړه سازه چې بې هوش شم
اول ذکر مې د یار ونهٔ چېړې

ګوری ځان به د طوفان غوندې کړم پورته
د یار غمه ما بې وار ونهٔ چېړې

د وفا او د جفا خبرې پرېږده
د زخمي زړهٔ مې پرهار ونهٔ چېړې

لېوني خلق په ګټو داسې وولي
ماشومان ګوری په قار ونهٔ چېړې

زهٔ د پند د کوره وتې ډېر پخوا یم
ای ناصحه څهٔ ګفتار ونهٔ چېړې

تا ډېر وکړل تپوسونه زهٔ خاموش یم
حال د زړهٔ چې د خود دار ونهٔ چېړې

لهٔ هر چا زخمي زخمي یم په خولهٔ خاندم
چې د سترګو مې ابشار ونهٔ چېړې

دشمنان چې یادوي هغه ښهٔ خلق وو
بحث د خپلو چې یو وار ونهٔ چېړې

داسې ښه یم چې د غم دریاب یم وړې
تنهائۍ د درد اشعار ونهٔ چېړې(33)

دې غزل کښې دولس شعرونه دي او دیارلس استعارې په کښې راغلي دي:

قصې= خبرې/واقعې

بهار=ښهٔ وخت

چمن=کلی
بلبل=عاشق
چغار=فریاد
مطرب=خندا خوشحالي کونکی
د غم تار= د خفگان خبره
ساقي=غم غلطونکی کس
پرهار=تکلیف ورکونکې خبره
لېوني خلق=عاشقان
گفتار= نصیحت
ابشار=بهانده یا رواني اوښکې
دشمنان=مخالف

د دې نه دا ثابتېږي چې الفت بېگم درد خپله شاعرۍ کښې د تشبیه په ځای د استعارې قائله وه. استعاره د اسلوب داسې خوبي وي چې خبره زيات شدت او معنويت سره د اورېدونکي زړۀ ته کوزوي. ځکه استعاره د تشبيه نه زياته موثره هم گڼلې کېږي. د الفت بېگم درد په شاعرۍ کښې د استعارې استعمال ډېر فطري او تخليقي دی چې د هغې شاعرۍ ته ئې د استعاراتي شاعرۍ خواږۀ بخښلي دي.

## کنایه:

کنایه دراصل یوه خبره په اشارې یا رمز کښې کولو ته وائي. د دې مثال د پښتو د دې متل په مفهوم دی چې "لورې وايم تاته خو انگور واوره ئې تۀ" ،یعني اشارې سره خبرې کولو ته کنایه وائي . ډاکټر هارون رشید تبسم په خپل کتاب "ادبي اصطلاحات" کښې د کنایې وضاحت څۀ داسې کوي چې:

*"کنایہ کے لغوی معنی ہیں، پوشیدہ بات کرنا یا بات کو رمز و اشارے میں بیان کرنا۔ علم بیان کی رو سے کنایہ وہ لفظ ہے جس کے حقیقی معنی مراد نہ ہوں بلکہ غیر حقیقی مفہوم مراد ہو لیکن اگر حقیقی معنی بھی مراد لیں تو یہ بھی جائز ہو۔"*(34)

ترجمه: د کنایې لغوي معني،مخفي خبره کول یا خبره په رمز او اشاره بیانول دي. د علم بیان له رویه کنایه هغه لفظ دی چې حقیقي معني ترې

مراد نهٔ وي بلکې غېر حقيقي مفهوم ترې مراد وي. خو که حقيقي معني ترې هم مراد وي نو دا هم جائز ده.

د صفت او خاصې له رويه پوهانو کنايه په يو شمېر قسمونو کښې وېشلې ده لکه ؛کنايه قريب،کنايه بعيد ، تلويح، تصريح، تعريض، مثبت، نفي، رمز او ايما وغېره ـ دا ټول د کنايې مختلف شکلونه دي ـ د الفت بېګم درد شاعري چې مونږ لولو نو هغې کښې هم مونږ ته د کنايې مخلتف قسمونه او شکلونه په نظر راځي ـ لکه د مثال په توګه:

دا جهان څۀ کړم زما بله دنيا ده
بې ګناه مې خلق ولې تنګوي(35)

دې شعر کښې "بله دنيا" کنايه قريب ده چې مطلب ترې د مادي دنيا په ضد د خيال او فکر دنيا ده.

د کنايه قريب وضاحت که وکړو نو د دې په حقله پروفېسر انور جمال څۀ داسې رقمطراز دی چې:

"ایسا کنایہ جسے سمجھنے میں زیادہ غور و فکر سے کام نہ لینا پڑے، کنایہ قریب کہلاتا ہے."(36)
ترجمه: داسې کنايه چې پوهېدو باندې ئې د زيات غور او فکر کولو نه کار وانۀ خستې شي. کنايه قريب ورته وائي.

د الفت بېګم د هم دغې غزل بل شعر ته به هم وګورو چې د کنايه قريب غوره مثال دی لکه:

زۀ ګردش د زمانې يوړم په مخه
راته ښکاري رو په رو مې ډوبوي(37)

د زمانې ګردش څۀ ته چې "نشيب و فراز" هم وئيلې شي دلته د بد وخت په معني کنايه ده ـ دغه شان د رمزيه کنايې يو مثال به ئې د دې شعر په صورت ورکړو چې:

زما مخ باندې نن وار د اوښکو نشته
رايادېږي تېره وخته څۀ د پاره؟(38)

دې شعر کښې د تېرې خوشحالۍ او اوس د خفګان د پاره رمزيه کنايه ده ـ دغه شان که نور مثالونه راخلو نو نور شعرونه هم په لاسو راځي چې په کښې د کنايې نه کار اخستی شوی دی لکه:

پلوونه مې په جاړو کښې انبنلي
نن دشمن مې سیوری خپل په نظر راغی(39)

یعني که غور وکړو نو دویمه مصرعه کښې نزدې خلقو د پاره کنایه موجود ده. یا دا بل مثال به هم وګورو:

ستا یو ځاځکی د دیدن هم قیمتي دی
خبر نۀ ومه زۀ ستا د سخي توبه(40)

دلته هم طنز دی او هم کنایه ده، د بخل د پاره۔ خو دا دې یاده وي چې د الفت بېګم درد په شاعرۍ کښې د کنایې د کارونې باوجود هم کثرت نشته.

**مجاز مرسل:**

د مجاز مرسل نه مراد هغه لفظ دی چې د حقیقي معنې نه علاوه بله معني کښې استعمال کړی شي۔ د دې سپیناوی هارون رشید تبسم داسې کړی دی:

*"مجاز مرسل علم بیان کی رو سے وہ لفظ ہے جسے اپنے حقیقی معنی کے سوا کسی اور معنی میں استعمال کیا جائے اور حقیقی اور مجازی معنوں میں تشبیہ کے علاوہ کوئی اور قرینہ (تعلق) پایا جاتا ہو."(41)*

ترجمه: مجاز مرسل د علم بیان له رویه هغه لفظ دی کوم چې د خپلو حقیقي معنو سربېره نورو معنو کښې وکارولې شي او حقیقي او مجازي معنو کښې ئې د تشبیه نه پرته یو کوم بل تړاؤ وي.

د مجاز مرسل د دغې ځرګندوالي نه پس اوس چې د الفت بېګم درد په شاعرۍ خبره وکړو نو د الفت بېګم درد په شاعرۍ کښې مونږ ته داسې ډېر شعرونه په لاسو راځي چې د پورته حوالې په رڼا کښې د مجاز مرسل په معنوي تقاضه پوره خېژي۔ دلته هغه شعرونه ګورو کوم کښې چې د مجاز مرسل استعمال شوی دی.

هغه کېږي چې الله ته وي منظوره
تدبیرونه که هر څو بنده کوي(42)

دې شعر کښې د دویمې مصرعې په جوړښت کښې لفظ بنده مونږ وینو۔ که شعر ته وګورو نو مونږ ته په ډېره اسانه اندازه کېږي چې دلته لفظ "بنده" جز د کل د پاره استعمال شوی دی. دغه شان دې بل شعر کښې به د مجاز مرسل بل صورت ته فکر

وکړو.

د بې قدره "دنیاګۍ" به څهٔ ساعت وي
قدردانو د بلې ونيوه لاره(43)

دلته کښې لفظ "دنیاګۍ" نه په شعري جوړښت کښې اندازه کېږي چې مکان د مکين د پاره راوړلی شوی دی کوم چې د مجاز مرسل قسم دی. هم دغه شان دې بل شعر ته به وګورو.

زمانې څهٔ مې وو بد درسره کړي
ستا د لاسه مې تل اوښکې تویول شو(44)

يعني د لفظ "زمانې" کارول، مطلب ترې خلق اخستل دي. دغه شان دې ته نژدې يو بل شعر هم دی چې:

دومره مهٔ راته په مینه مینه ګوره
دا بد سترګې دنيا نهٔ ده بې خبره(45)

دې شعر کښې "دنيا" لفظ مونږ وينو نو که غور وکړو دلته کښې دنيا نه مراد د دنيا خلق دي. دا شان يو بل شعر به د نمونې د پاره هم راواخلم:

اوس خو لږ راشه اشنا شپه هم رو په رو اوده شوه
دا تنهائي خو مې بې تا صنم رښتيا اوږده شوه(46)

که ووايو نو دراصل شپه نهٔ اوده کېږي بلکې شپه کښې خلق اودهٔ وي خو دې ځای "شپه اوده کېدل" د مجاز مرسل غوره بېلګه ده. يا دا شعر هم د لوستو سره تعلق لري:

جنازې وي د احبابو څومره سختې
دا کټونه ټول زما مخکښې اوچت شو(47)

"دا کټونه ټول..." يعني ظرف د مظروف د پاره دې ځای استعمال کړی شوی دی. دغه ټول شعري نمونې چې د مجاز مرسل په حواله د الفت بېګم درد د شاعرۍ نه چوڼ کړی شوې. مطلب ترې دا وهٔ چې د هغې شاعرۍ ته د علم بيان د دې رکن تر مخه هم وګورو. د الفت بېګم درد شاعري د علمِ بيان مطابق څېړل دراصل د دې سليقه بيان ته يو نظر راوړل وو چې په يو حواله د هغې د فن او هنر د تعين په باب کښې اساتياوي بخښي.

# حوالې

1.رسا،سید رسول،د درد شاعری ته یوه تنقیدي کتنه،مشموله، حیاتِ درد ،شاهین برقي پریس پېښور، 1979ع،مخ 5
2.همدغه اثر،مخ7
3.دہلوی، محمد سجاد مرزا بیگ، تسہیل البلاغت، نظام دکن پریس، حیدر آباد، سن اشاعت1920، صفحہ107، 108
4.عابد،عابد علی، البیان، مجلس ترقی ادب کلب روڈلاہور، فروری1989ع، ص31
5. خټک،فضل میر،پروفیسر،فضلیات،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ایډیشن سوم، 2021ع،مخ149
6.انور جمال، پروفیسر، ادبی اصطلاحات، نیشنل بک فاؤنڈیشن اسلام آباد، طبع سوم2012ع،ص64
7. درد ، الفت بېګم، حیاتِ درد ، شاهین برقي پرېس پېښور، کال1979،مخ 20
8. رامپوری، نجم الغنی، بحرالفصاحت،ص967
9.ایضاً، ص968
10.ایضاً، ص971
11.ایضاً، ص983
12.ایضاً، ص1029
13.درد ، الفت بېګم،حیاتِ درد ،شاهین برقي پرېس پېښور، کال1979،مخ22
14. همدغه اثر،مخ29
15. همدغه اثر،مخ51
16.درد ، الفت بېګم،د زمانې ټکرې،سرحد پریس پشاور،چاپ کال نهٔ لري، مخ9
17.همدغه اثر،مخ14
18.همدغه اثر،مخ17
19.انور جمال، پروفیسر،ادبی اصطلاحات، نیشنل بک فاؤنڈیشن اسلام آباد، طبع سوم2012ع،ص37
20.دہلوی، محمد سجاد مرزا بیگ، تسہیل البلاغت، نظام دکن پریس، حیدر آباد، اشاعت1920،ص134
21.درد ، الفت بېګم،حیاتِ درد ،شاهین برقي پرېس پېښور، کال1979،مخ26
22.همدغه اثر،مخ30
23.همدغه اثر،مخ48

24.همدغه اثر،مخ53
25.همدغه اثر،مخ54
26.همدغه اثر،مخ56
27.همدغه اثر،مخ68
28.همدغه اثر،مخ112
29.همدغه اثر،مخ101
30.همدغه اثر،مخ97
31.همدغه اثر،مخ82
32.همدغه اثر،مخ51
33.درد ، الفت بېګم،حياتِ درد ،شاهين برقي پرېس پېښور، کال1979،مخ20
34.تبسم، هارون رشيد ، ادبي اصطلاحات، بک کارنر شوروم جہلم، 23مارچ، 2018ع،ص39
35. درد ، الفت بېګم،حياتِ درد ،شاهين برقي پرېس پېښور، کال1979،مخ53
36..انور جمال،پروفیسر،ادبی اصطلاحات، نیشنل بک فاؤنڈیشن اسلام آباد، طبع سوم2012ع،ص39
37.درد ، الفت بېګم،حياتِ درد ،شاهين برقي پرېس پېښور، کال1979،مخ53
38.همدغه اثر،مخ54
39.همدغه اثر،مخ59
40.همدغه اثر،مخ62
41. تبسم،ہارون رشید،ادبی اصطلاحات، بک کارنر شوروم جہلم، 23مارچ، 2018ع،ص36
42.درد ، الفت بېګم،حياتِ درد ،شاهين برقي پرېس پېښور، کال1979،مخ53
43.همدغه اثر،مخ54
44.همدغه اثر،مخ56
45.همدغه اثر،مخ57
46.همدغه اثر،مخ64
47.همدغه اثر،مخ68